په پښتو ادب کښې د "سهرې" ابتداء او ارتقاء

# Origin and evolution of genre "Sehra" in Pashto literature

Najeeb Zeeray[1], Noor Ul Basar Aman[2]

**_Abstract_**

*The different genres in Pashto literature are very rich with powerful aesthetic expression, achieving artistic excellence through a peculiar interplay of figures of speech and cultural nuances. "Sehra" is one of them. Due to its flexible and volatile nature, and it is therefore part of both folklore and other poetic form. "Sehra" is of immense importance for it is sung on the occasion of wedding ceremonies. This research paper studies the form, its origin and development over the last few decades.*

***Keywords:*** *Pashto literature, literary genres, Sehra, Pashto Language, wedding ceremonies.*

[1] MPhil Scholar, Department of Pashto and oriental languages, University of Malakand, Khyber Pakhtunkhwa
[2] Assistant Professor, Department of Pashto and oriental languages, University of Malakand, Khyber Pakthunkhwa

منظوم ادب په بېلابېلو اصنافو مشتمل دے ـ په مشرقي ادب کښې د نورو شعري اصنافو ترڅنګ يو ځانګړے موضوعاتي صنف د "سهرې" هم دے ـ د پښتو شاعرانو د نورو اصنافو سره سره ګڼ شمېر "سهرې" تر دې دمه ليکلي دي او په کتابي صورت کښې چاپ شوي هم دي ـ د سهره نګارۍ د روايت په اړه لا دقيق معلومات مخې ته نۀ دي راغلي چې دا صنف پۀ پښتو ادب کښې دَ کوم وخت نه شروع شوے دے ـ د دې صنف د ابتداء په حقله د پوهانو رائې هم د يو بل نۀ مختلفې دي ـ تر ټولو اول دا مهمه ده چې د لغتونو او فرهنګونو په مدد سره د لفظِ "سهره" وضاحت وشي ـ

"سهره" اسم دے ،مذکر دے او د هندۍ ژبې ټکے دے ـ لغوي او اصطلاحي معنې ئې په لغتونو او فرهنګونو کښې تقريباً يو شان دي ـ ـ د "سهرې" لغوي معنٰی د ګلونو يا د ښکلو دانو لړونه چې د وادۀ د زلمي او ناوې په مخ باندې راځوندِ وي، دا به د بېلابېلو څيزونه لکه د مقيش او د زرۍ د تارونو نه جوړېدې خو په ادبي اصطلاحي معنو کښې "سهره" هغه نظم يا سندرې ته وئيلې شي چې د وادۀ د زلمي او د هغه د سهرې تعريف پکښې شوے وي[i] يا هغه نظم ته چې د سهرې د تړلو په موقع اورولے شي [ii] او يا هغه نظم چې د واده په موقع د سهرې د تړلو په وخت د شاعر له خوا وړاندې کيږي ـ [iii] "سهره" د فخر، امتياز او سر لوړۍ په معنو کښې هم استعماليږي[iv] ـ

د پښتو اکېډيمي پۀ لغت کښې دَ "سهرې" متعلق داسې ليک دي:

"په تارونو پئيلو شوو ګلونو جوړ شوے داسې څيز چې د وادۀ زلمي او د ناوې په سر تړلے شي چې د ګلونو لړۍ يې په مخ او په سينه راځوړندې شي ـ اوس پکښې زرين تارونه بلکې نوټونه هم لګولے شي ـ هغه نظم چې (عموماً قافيه ئې "سهره" وي) د نکاح په وخت د وادۀ د زلمي د سهرې تړلو په وخت وئيلے شي ـ هغه خاص نظم ليکل چې د وادۀ د زلمي د سهرې تړلو په وخت وئيلے شي ـ د دې نظم قافيه عموماً "سهره" وي او عموماً لس نه تر شلو پنځويشتو پورې شعرونه لري" ـ [v]

د "سهرې" په شاليد کښې هم د اکثرو پوهانو نظرونه يو بل ته نزديکت لري ـ وئيلے شي چې د واده زلمي ته د پړقيدونکو او طلائي تارونو، قيمتي دانو او ګلونو نه جوړه سهره تړل د براعظمګي پخوانے رسم دے ـ په دغه موقع شاعران په خطيبانه انداز کښې نظمونه وړاندې کوي او دغه منظومې ډالۍ ته "سهره" وئيلے شي ـ سهره په عامه توګه د قصيدې په هيئت کښې ليکلے شي ـ "سهره" په دوه خبرو کښې د قصيدې سره يوشان والے لري وړومبۍ خو "سهره" د هيئت په لحاظ د قصيدې سره يو شان ده ـ دويم د قصيدې په شان په "سهره" کښې هم د (ممدوح) د واده د زلمي مدح او د هغه د نزدې خلکو صفت بيانيږي ـ خو د قصيدې رنګه د "سهرې" رجحان اوږدوالے نۀ وي ـ[vi]

ساجد محمد شائق د لفظ "سهره" په ادبي اصطلاح کښې مفهوم داسې واضحه کوي ـ

"په شعري اصنافو کښې "سهره" هغه نظم ته وئيلے شي چې د وادۀ په
موقع په جوړ کړې شوې مشاعره کښې د وادۀ د زلمي په مدح کښې وئيلے
شي او د وادۀ په موقع پکښې د خوشحالۍ څرګندونه کولے شي ـ کله کله

پکښې د ناوک (د واده زلمے) پلار او وروڼه او نزدې رشته دار هم ورسره ستائيلے شي ـ په دې نظم کښې شاعران ناوک او خپلوانو له يې مبارکي ورکوي" ـ vii

مشتاق مجروح يوسفزے ئې نور وضاحت داسې کوي :

"سهره هم د نظم يو صنف دے چې خپل څه هيئت نۀ لري ځکه نو هيئتي صنفونو کښې نۀ راځي ـ پېژندګلو ئې لۀ موضوع کېدے شي ـ له دې وجې نه په هر يو صنف کښې ليکلے کېدے شي ـ کۀ د غزل په هيئت کښې وي، کۀ د مثنوي يا د پابند او ازاد نظم په هيئت کښې وي يا يې شاعر غېر مقفٰی ليکل غواړي نو هم څه بندېز نشته ـ ـ ـ سهره هغه نظم ته وائي چې د چا په وادۀ ليکلې شي او چې د چا واده وي نو هغۀ له مبارکي ورکولې شي او څۀ لږه ډېره مدح ئې هم کولې شي ـ ځينې ځينې شاعران پکښې د ودګنې (د هغه چا چې وادۀ وي) د پلار او نورو وروڼو وغېره ذکر هم کوي" ـ viii

پروفېسر فضل مير ختک په دې حواله ليکي:

"د وادۀ په موقع چې زلمي ته کوم هار په غاړه کښې اچولے شي کۀ هغه د ګلونو وي او کۀ د نوټونو يا د شنو سرو تارونو، دغه هار ته سهره وئيلے شي ـ د ادب په اصطلاح کښې هغه نظم چې د وادۀ په موقع خطابيه انداز کښې د مبارکۍ دپاره وئيلے شي چې زلمي ته د هار په ځاے وړاندې کېږي، سهره ده ـ دا صنف قصيدې ته ډېر ورته دے ځکه چې په دې کښې د زلمي تعريف وي او هيئت يې هم د قصيدې وي ـ په دې کښې خاص خبره دا ده چې رديف يا قافيه به خامخا سهره وي ـ د وادۀ زلمي ته به مخاطب وي" ـ ix

د لفظ "سهره" په اصطلاح کښې ټول ليکوالان په دې متفق دي چې دا د شاعرۍ يو موضوعاتي صنفِ سخن دے ـ پۀ پښتو ادب کښې دَ سهرې د ابتداء په حقله اقبال نسيم ختک دَ ډاکټر شبر زمان سيماب په کتاب "سهرې" کښې ليکي:

"زما خپله اندازه دغه ده چې په پښتو کښې د سهرې د ليکلو روايت دومره زوړ تاريخ نۀ لري ـ زيات نه زيات به دغه روايت په شلمه صدی کښې شروع شوے وي او بيا د دې د ليک کال معلومول هم کار دراز" ـ x

استاد فضل مير ختک په پښتو ادب کښې د سهره نګارۍ د آثارو او نخښانو په حقله ليکي:

"پښتو کښې دا رواج عام نۀ دے خو شته ضرور مثال ئې موندے شي ـ ولې کتابي شکل کښې تر اوسه چا يو ځاے کړے نۀ دے ـ د طاهر کلاچوي د مينې غېږ کښې مې دا مثال بياومندۀ چې د نوي زلمي ليکوال احسان زهير او د دۀ د کشر ورور نواز افريدي په وادۀ ئې دا سهره ليکې شوې ده ـ د دغې سهرې اولنے او اخيرنے بند نقل کولے شي:

د بلنې دې ممنون يمه بې حده
درتلے نۀ شم اخلاصمنه سخندانه
مبارک مو شه وادۀ د دواړو ورونړو
په ځوانۍ دې ارمان وخېژه احسانه
د احسان او د نواز د زلمي زړونو
خدايه! تۀ ئې کړې تر سره مرادونه
کور اباد دې عظيم خان دوي طاهره
تر هغۀ چې وي ولاړ د خېبر غرونه[xi]

د پير ګوهر د شاعرۍ کتاب "پولۍ لاسونه" کښې د شبر علي باچا په واده ليکلې شوې سهره وړاندې کړې ده ـ دلته د دغه سهرې وړومبے او اخيرنے بند د يادابنت سره رانقل کولے شي ـ
"د يو دوست شبر علي باچا اېډوکېټ د وادۀ ښهره[3] په ۱۹۶۷/۵/۱۳ء کښې واورولے شوه ـ
بس چې زمانې له د زړګي زخمونه وتړو
بيا به خوړ لالي له د ښهرې لړونه وتړو
جنګ وکړئ د لوږې بيمارۍ او جهالت خلاف
پورته مشعلونه کړئ د جبر د ظلمت خلاف
ودرېږئ يو صف کښې ټول په مينه د نفرت خلاف
چغې کړئ د بدو د بلېکونو او رشوت خلاف
ټول چې په دې ښکلي اراده خپل زړونه وتړو
بيا به خوړ لالي له د ښهرې[4] لړونه وتړو

واخله دا د سير و د سحر د پلوشو ډکه
دا د روڼ منزل دا د ګلونو د وږمو ډکه
خيال کښې چې ځلېږي د امېد د اورکو ډکه
واخله دا ښهره د لړزېدلو ولولو ډکه
نور به اے ګوهره په يو تار شعرونه وتړو
بيا به خوړ لالي له د ښهرې لړونه وتړو[xii]

د دې سهرې د يادابنت نه دا پته لږي چې د سهرې رواج د ۱۹۶۷ء وړاندې هم وۀ ـ او په ودونو کښې شاعرانو سهرې ليکلې ـ چرته خال خال سهرې د شاعرۍ په کتابونو او مجلو کښې چاپ دي ـ خو په

---

[3] دا لفظ سهره دے ـ په دغه کتاب کښې دا "ښهره" ليکل شوے دے چې ناسم دے
[4] سهرې

کتابي شکل کښې چې باقاعده طور دا روایت شروع شوے دے نو د هغې تفصیل د موجودو معلومات په بنیاد داسې دے۔

دا اوس زمونږ سره یوه قابل تحقیق خبره ده چې د دې لټون وشي چې په پښتو کښې د "سهرو" په کتابي شکل کښې د چاپ د روایت اغاز کله شوے دے۔ سعید احمد ساحل د ډاکټر اقبال نسیم خټک د رائې سره اختلاف لري، دا نومړے لیکي:

"ډاکټر اقبال نسیم خټک پهٔ پښتو ادب کښې دَ سهرو پهٔ کتابي صورت کښې د روایت آغاز د استاد ډاکټر علي خېل دریاب دَ تالیف "د رنګونو په لار د خوشبوګانو سفر" ښخه حسابوي۔ حقیقت دا دے چې په دې حواله وړومبے کتاب د محمد نواز خان خټک "ډولۍ" دے"[xiii]

په دې حواله د ډاکټر شېرزمان سیماب خبره حقیقت ته ډېره نزدې او رښه ده۔ د سهرو په کتابي صورت کښې د چاپ کولو په حقله ډاکټر شېر زمان سیماب لیکي:

"په پښتو ادب کښې په کتابي شکل کښې د سهرو چاپ کولو روایت نهٔ زوړ دے او نهٔ نوے۔ په دې چې تر دې دمه زما د اطلاع مطابق درې مجموعې د سهرو په لړ کښې تالیف شوي دي۔ وړومبۍ اروابښاد محمد نواز خټک د خپل زوي د وادهٔ سهرې د "ډولۍ" په نوم تالیف کړي او شائع کړي دي ۔ دویمه مجموعه پروفیسر ډاکټر زبېر حسرت د "وربلونه چې سمسور شي" په نوم چاپ کړې ده او دریمه مجموعه د پروفیسر ډاکټر علي خېل دریاب " د رنګونو په لار د خوشبوګانو سفر" چې د موصوف د وادهٔ سهرې دي، تر چاپه رسېدلې ده۔ (شاید چې نور چا هم دغه زیار کړلے وي ولې په ذکر نهٔ کولو ئې له دې وجې بخښنه غواړم چې زما تر مخه ئې ذکر قدرې هم نهٔ دے راغلے) دا راقم دا زیار هم د دغه تسلسل کړۍ اوګڼئ او خدائے دې اوکړي چې د سهره نګارۍ د تسلسل دا زنځیر نور هم اوغزیږي او د پښتو منظوم ادب ته د یو باقاعده صنف په توګه متعارف شي"[xiv]۔

دلته د شېرزمان سیماب صېب دا خبره چې (شاید نور چا هم دغه زیار کړلے وي) په دغه زیار ایستونکو کښې یو نوم د ډاکټر محمد عرفان خټک هم دے۔ هغه د سهرو د تالیف په دې زنځیر کښې د دوهٔ کړو اضافه کړې ده۔ دا دوه کړۍ د کتابچو په شکل کښې دي۔ دا کتابچې "برغدې ښادۍ" پهٔ کال ۱۹۹۶ کښې او د "احساس پېرزوني" په کال ۱۹۹۷ء کښې د چاپ په کالو ښائسته شوي دي۔ چې تفصیل به ئې وړاندې راشي۔

د دې ټول بحث په رڼا کښې مونږ دې نتیجې ته رسو چې پښتو ادب کښې تر دې دمه په کتابي شکل کښې د سهرو د چاپ کتابونو ترتیب داسې دے۔ وړومبے کتاب د محمد نواز خان خټک "ډولۍ" دے چې پهٔ کال ۱۹۷۲ء کښې چهاپ دے، دویم کتاب دَ ډاکټر محمد زبېر حسرت "وربلونه چې سمسور شي" دے چې پهٔ کال ۱۹۸۵ء کښې چاپ دے، دریم کتاب دَ ډاکټر محمد عرفان خټک "برغدې ښادۍ" دے چې پهٔ کښې چهاپ دے، څلورم کتاب هم دَ دغه لیکوال "د احساس پېرزوني" دے چې پهٔ ۱۹۹۷ء کښې چهاپ

دے، پنځم کتاب د ډاکټر علي خېل درياب "د رنګونو په لار د خوشبوګانو سفر" دے چې په ۲۰۰۲ء کښې چهاپ دے، شپږم کتاب د ډاکټر شېر زمان سيماب "سهرې" دے چې په ۲۰۱۳ء کښې چاپ دے او تر ټولو اخر د زلمي ليکوال سعيد احمد ساحل صيب "خانه ښادي دې مبارک شه" دے چې په ۲۰۲۱ء کښې چاپ دے ۔ د دې کتابونو جدا جدا تفصيل لاندې وړاندې کولے شي ۔

(۱) ډولۍ:

د سهرو په حواله تر دې دمه وړومبے کتاب د محمد نواز خان خټک د "ډولۍ" په نوم تاليف کړې مجموعه ده ۔ دې کتاب کښې د هغه د زوي خالق خان خټک د وادۀ سهرې راټولې کړے شوي دي ۔ د دې کتاب په حواله ډاکټر عبدالروف رفيقي په خپل کتاب وياړلي کښې ليکي:

"ډولۍ"، د محمد نواز خان د زوي خالق خان د وادۀ سېرې، چاپ ۱۹۷۲م ، مخونه ۵۹" ۔ [xv]

(۲) وَربلونه چې سمسور شي:

د سهرو په حواله دويم تاليف شوے کتاب د ډاکټر زبير حسرت "وربلونه چې سمسور شي" دے چې د پير طلا محمد باچا د زوي امجد علي شاه د وادۀ چې په ۲۶ دسمبر ۱۹۸۴ء کښې شوے وۀ، په "سهرو" مشتمل دے ۔ په دې ټولګه کښې دَ چاپ کوونکي ټولني دَ يادښت نه علاوه د اولس ليکوالانو سهرې په مختلفو هيئتونو کښې موجود دي ۔ په دې مجموعه کښې د "سهرې" نۀ وړاندې د سهره نګارانو تصويرونه او د هغوي په حقله لږ ډېر معلومات هم شامل دي ۔ د کتاب نوم د م ۔ ر ۔ شفق د ليکلې سهرې عنوان "وربلونه چې سمسور شي"[xvi] اېښودے دے ۔ دا مجموعه په کال ۱۹۸۵ء کښې دَ " پښتو ادبي دوستان مردان" له طرفه چاپ شوې ده ۔[xvii] کتاب کښې چې دَ کومو شاعرانو سهرې شاملې دي دَ هغوي نومونه دا دي ۔ عبدالواحد تهېکدار، ډاکټر امين الحق امين، اسرار د طورو، نور البشر نويد، امير باچا منير، عبدالواحد قلندر، م ۔ ر ۔ شفق، محمد اقبال اقبال، ډاکټر درويش، مشتاق مجروح يوسفزے، خان بهادر حسرت، محمد زبير حسرت، فضل الرحمان صابر، هدايت الله ګل، فضل نعيم نعيم، ممتاز احمد ممتاز، س ۔ ر ۔ سراج ۔

(۳) برغدې ښادۍ:

د سهرو په حواله دريم تاليف د ډاکټر محمد عرفان خټک تاليف کړې کتابچه "برغدې ښادۍ" مخې ته راغلې ده ۔ په ۱۲ اپرېل۱۹۹۶ء کښې د ښاغلي طاوس خان خټک د زامنو شاه عالم خان خټک او فخر عالم خان خټک د ودونو په موقعه وړاندې شوي سهرې شاملې دي ۔ په دې کتاب کښې د شپږ سهره نګارانو د سهرو نه علاوه نور کوم ليکونه نشته ۔ دغه شان دا کتابچه د چاپ نېټه او ځاے هم نۀ لري ولې خو د ډاکټر عرفان خټک د وينا مطابق دا کتابچه هم د وادۀ په دغه کال چاپ شوې ده ۔ [xviii] ۔ د دې کتابچې په سر پاڼه د اجمل خټک دا شعر ليک دے

برغدې ښادی دې مبارک وي د دې ټول انغري
يو ښکلے دور دې پرې د مينې او وفا راشي[xix]

په دې کتاب کښې د دې شاعرانو سهرې شاملې دي ـ ښاغلے اجمل خټک، ښاغلے سراج الاسلام سراج، ښاغلے سيّد لعل جهان صادق، ښاغلے فضل اکبر سيلاب، ښاغلے رافع گل خټک او محمد عرفان خټک ـ

(۴) د احساس پېرزونې:

په دې حواله څلورم تاليف هم د ډاکټر محمد عرفان خټک تاليف کړې کتابچه "د احساس پېرزونې" ده ـ دا کتابچه هم د چاپ کال نۀ لري ـ په دې کتابچه کښې د ميا عطاءالرحمان، مياجي غلام حسن شاه او ميا جميل شاه د ودونو په موقعه وړاندې شوې سهرې شاملې دي ـ دغه ودونه په ۶ اپرېل ۱۹۹۷ کښې شوي وو ـ او دا کتابچه هم د واده په دغه کال چاپ شوې ده[xx] ـ په دې کتابچه کښې د درې ليکوالانو سهرې شاملې دي چې نومونه ئې دا دي، محمد عرفان خټک،عجيب الرحمٰن کسکر، منجور خان منجور ـ منجور خان منجور چې کومه سهره ليکلې ده د هغې يو څو شعرونه وړاندې کولے شي

درې سهرې ليکمه نن د درې زلمو ودونه دي
خوشحال پۀ دې ښادئيو نن د لويو وړو زړونه دي

عطاء، غلام، جميل چې د خپل نوي ژوند اغاز کوي
څۀ ښکلې فضا ده او څۀ ښکلې ساعتونه دي

وائي منجور په څو څو واره مبارک دې وي
دا د هر زلمي او د هر پېغلې ارمانونه دي[xxi]

(۵) د رنګونو په لار د خوشبوګانو سفر:

په دې سلسله کښې پنځمه مجموعه د ډاکټر علي خېل درياب تاليف کړې مجموعه "د رنګونو په لار د خوشبوګانو سفر" ده ـ په دې مجموعه کښې د ډاکټر علي خېل درياب د وادۀ په مناسبت سره په شوې مشاعره کښې وړاندې کړې شوې (۳۱) سهرې شاملې دي ـ د وادۀ نېټه ۲۹ اګست ۲۰۰۰ء ده ـ دا ټولګه په کال ۲۰۰۲ء کښې دَ "همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره" له خوا چاپ شوې ده[xxii] ـ

(۶) سهرې:

په دې حواله شپږمه مجموعه د ډاکټر شبر زمان سيماب تاليف کړې مجموعه "سهرې" ده ـ په دې مجموعه کښې په۲۶ اګست ۲۰۰۱ء د ډاکټر شبر زمان سيماب د وادۀ په مناسبت سره په راجوړه کړې شوې مشاعره کښې وړاندې کړې شوې (۱۷) سهرې شاملې دي ـ په دې مجموعه سهرو تر څنګ د ډاکټر اقبال نسيم خټک، شباب رانيزي، فضل معبود صائم او شبر زمان سيماب ليکونه هم شامل دي ـ دا پۀ کال ۲۰۱۳ء کښې دَ "تانه ادبي ټولنه" لۀ خوا چاپ شوې ده [xxiii] ـ په دې مجموعه کښې د اولس شاعران سهرې

شاملي دي چې نومونه ئې په دې ډول دي ـ پروفېسر محمد نواز طائر، لائق زاده لائق، پروفېسر اباسين يوسفزے، محمد حنيف قېس، ظفر علي ناز، ډاکټر ديدار يوسفزے، محمد نعيم رېحان، سيد صابر شاه صابر، شهزاده پرنس، طاهر شاه ياسر، بخت بلند بخت، محمد طاهر مغموم، صابر سوات، محمد جاوېد اظهر، خيال سېد ابادي، ناصر امين او فاروق شاه سحر ـ پروفېسر اباسين يوسفزي په دې موقعه شپر زمان سيماب ته د سهرې سره دوه قطعې هم ډالۍ کړې دي ـ دلته ئې رانقل کوو

الله ښه په اسانه وکړو هسې خو ډېر گران وۀ
زما او د لائق او د افکار دغه ارمان وۀ[5]
مونږ لږ په غم اخته وو چې دے هم پکښې اخته شو
الله ئې مغفرت وکړي سيماب هم ښکلے ځوان وۀ[xxiv]

بله قطعه ئې داسې ده ـ

نۀ د ځان شوې نۀ د پلار شولې پردے شوې
چې يو ډنګ دريسې وشو ډنګ ډنګے شوې
اوس به ايسته اورته انګه پيچه نۀ کړې
هلکوالے درنه لاړلو سړے شوې[xxv]

## (۷) خانه ښادي دې مبارک شه:

د سهرو په حواله بله تاليف کړې شوې مجموعه د سعيد احمد ساحل "خانه! ښادي دې مبارک شه" ده ـ دا مجموعه په ۱۶ جون ۲۰۱۹ء د بادشاه الدين د زوې عثمان غني د واده په مناسبت د "لورى پښتو ادبي ټولنې" دير له خوا په راجوړه شوې مشاعره کښې د وئيلې شوې (۱۰) سهرو باندې مشتمله ده او په فروري کال ۲۰۲۱ء کښې د لوَرى پښتو ادبي ټولنه بر دير له اړخه چاپ شوې ده[xxvi] ـ پۀ دې مجموعه کښې چې دَ کومو شاعرانو سهرې چاپ دي د هغوي نومونه دا دي، سعيد احمد ساحل، مسلم خان وصال، محمد خان فکري، اعظم خان مجبور، ګل احمد وردګ، فقير شهزاده سنګر، عنايت الله خاکسار، فضل عظيم عظيم، سميع الله سحر او حميد الله ضياء ـ د سعيد احمد ساحل د منظومې سهرې نه يو څو شعرونه وړاندې کوو ـ

غبرګوني دوه روحونه د ازل په ورځ پيدا شو
په يو بل کښې تحليل شو او په يو بل کښې فنا شو

مثال ئې د يو روح او يو وجود وۀ بې مثاله
خبر نۀ وو د هجر د غمونو له جنجاله

[5] لائق زاده لائق سينئر پروډيوسر رېډيو پاکستان او حبيب الرحمان افکار

لالا[6]! نو مبارک شه چې ارمان دې سر په سر شۀ
لالا! نو مبارک شه چې دې غشے برابر شۀ

عثمانه! چې ملګرے دې د ژوند د لارې مل شۀ
عثمانه! نو ایمان دې ایله پوخ شۀ مکمل شۀ[xxvii]

د دې نه علاوه امکان کېدے شي چې نور کتابونه هم په دې حواله تالیف شوي وي ـ دا سلسله روانه ده ،په ناچاپ صورت،رسالو او اخبارونو کښې هم ډېر مواد خوارۀ وارۀ پراتۀ دي ـ نن سبا د سوشل میډیا سره دا روایت نور هم مخ په وړاندې تلے دے ـ

نتیجې:

ځنګه چې ژوند په یون او حرکت کښې دے دغه شان ادب هم د ژوند په قدم روان دے او څۀ ځېزونه ژوند د ادب د ماضي نه را اخلي او څۀ ادب د ژوند د حال نه را اخلي او د مستقبل د پاره يې خوندي کوي ـ ادب د فن،فکر،هیئت او موضوعاتو په لحاظ ګڼ اصناف لري چې یو پکښې "سهرې" هم دے ـ د دې څېړنې نه دا نتیجه اخذ شوه چې د نورو اصنافو په لحاظ د "سهرې" صنف د تخلیق مزل ډېر سس دے او ورسره هم دغه شان د دې د تالیف، تحقیق،تدوین،چاپ او خوندي کولو روایت هم کمزورے دے ـ نو ضرورت د دې خبرې دے چې څېړنکار دې صنف ته هم توجو وکړي چې د ورکېدو نه بچ شي ـ

---

حوالي

---

[i] احمد دہلوی، سید، مولف، فرہنگ آصفیہ، جلد دوم، زین نعمان پرنٹرز، لاہور، ۲۰۱۵، ص:۱۳۳

[ii] فیروز اللغات اردو جدید، فیروز سنز پرائیوٹ لمیٹڈ لاہور، ص: ۴۳۹

[iii] سعید اے شیخ، رابعہ اردو لغت جامع، اسلامک بک سروس دہلی انڈیا، ۲۰۰۷، ص: ۶۹۸

[iv] شان الحق حقی، فرہنگ تلفظ، نستعلیق ایڈیشن، ادارہ فروغ قومی زبان پاکستان،ایس ٹی پرنٹرز گوالمنڈی، راولپنڈی، ۲۰۱۷، ص: ۴۷۵

[v] خيال بخاري، ډاکټر، ترتيب: ډاکټر نصرالله جان وزير، پښتو اکاډيمي لغت، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي۲۰۱۸، ص: ۱۰۲۷

[vi] صدیقی ابوالاعجاز، حفیظ، کشاف تنقیدی اصطلاحات، ادارہ فروغ قومی زبان، ۲۰۱۸، ص: ۱۳۷

[vii] شائق، ساجد محمد، څرګنده خزانه، وړومبۍ برخه، پښتو ادبي ټولنه تحصيل تخت بائي ضلع مردان پښتونخوا، جون ۲۰۱۵، ص: ۱۶۱

[viii] مجروح، مشتاق یوسفزے، زرکانے، قلندر مومند ریسرچ سېل، ۲۰۱۸، ص: ۳۴۲

[ix] فضل میر خټک، پروفېسر، فضليات، اعراف پرنټرز پېښور،۲۰۲۰، ص:۳۲۷

[x] سپماب، شېر زمان، سهرۍ، جان کتاب کور کبل سوات، ۲۰۱۳ء، ص: ۱۲

[xi] فضل میر خټک، پروفېسر، فضليات، اعراف پرنټرز پېښور،۲۰۲۰، ص:۳۲۷

[xii] شاعر امن، پير ګوهر، پولۍ لاسونه، کاټلنګ پښتو ادبي جرګه ضلع مردان، ۱۹۷۲ء/۲۰۱۱ء، ص: ۷۸ ـ ۸۰

[xiii] ساحل، سعيد احمد، خانه ښادي دې مبارک شه، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۱ء ص: ۱۳

[xiv] سپماب، شېر زمان، سهرۍ، جان کتاب کور کبل سوات، ۲۰۱۳ء، ص: ۲۵،۲۶

[xv] رفيقي، ډاکټر عبدالروف، د افغانستان ملي تحريک او د ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز ۲۰۱۷، وياړلي، دريم ټوک، ص ۱۲۵۴

[xvi] حسرت، محمد زبېر، وَربلونه چې سمسور شي، ګرين پرنټنګ پريس مردان، ۱۹۸۵ء، ص: ۴۳

[xvii] ساحل، سعيد احمد، خانه ښادي دې مبارک شه، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۱ء، ص: ۱۴، ۱۵

[xviii] حسرت، محمد زبېر، وَربلونه چې سمسور شي، ګرين پرنټنګ پريس مردان، ۱۹۸۵ء

[xix] خټک، محمد عرفان، برغدې ښادۍ (منظومې سهرې)، د چاپ ځاے او نېټه نۀ لري، ص :۱

[xx] خټک، محمد عرفان، د احساس پېرزونې (منظومې سهرې)، د چاپ کال نۀ لري، منظر عام پريس پېښور

[xxi] خټک، محمد عرفان، د احساس پېرزونې (منظومې سهرې)، د چاپ کال نۀ لري، منظر عام پريس پېښور، ص: ۸

[xxii] ساحل، سعيد احمد، خانه ښادي دې مبارک شه، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۱ء، ص: ۱۷

[xxiii] سپماب، شېر زمان، سهرۍ، جان کتاب کور کبل سوات، ۲۰۱۳ء

xxiv هم دغه اثر، ص: ۳۷

xxv هم دغه اثر

xxvi ساحل، سعید احمد، خانه ښادي دي مبارک شه، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۱ء

xxvii هم دغه اثر، ص: ۲۳، ۲۵